محمد صدیق ننګ
۲۰۲۴/۱۰/۰۹

# چاربیته

ورکړې چا ورته وسله ده
له بېسوادو څه ګیله ده
د حیوانیت په لار رهي شو
متمدن بشر وحشي شو

اسره ارمان ته په ژړا ده
وینو کې ډوبه پښتونخوا ده
د ګیله من شهید وینا ده
ګناه ملکه ، ملا ستا ده
چې پښتنو باندې حمله ده
له بې سوادو څه ګیله ده
ظلم و ستم انتهایی شو
متمدن بشر وحشي شو

ډیپلوماسي څه مسخره شوه
«دموکراسي»په ټانک سوره شوه
ټوله دنیا په وینو سره شوه
د بربریت تیاره خوره شوه
جوړه دیوانو ته مېله ده
له بېسوادو څه ګیله ده
سیاست بازار د فحاشي شو
متمدن بشر وحشي شو

انسان له ځانه چې پردی شو
وحشت ته ګوره لېونی شو
له دېو و دد بتر سړی شو
چې وینې څښونکی خونړی شو
خدایه دا څه معامله ده
له بېسوادو څه ګیله ده
انسانیت متلاشي شو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

متمدن بشر وحشي شو

اسلاو پخپلو کې جنګيږي
امريکايان ورته پسخيږي
څه بې ګناه ويني تويږي
کلي ښارونه ويجاړيږي
يورپ ته جوړه کشاله ده
له بېسوادو څه ګيله ده
ابليس انګليس ته سلامي شو
متمدن بشر وحشي شو

ايران محور د شرارت دی
غزه کې جوړ چې قيامت دی
اسراييل جوړ له جنايت دی
داغ په تندي د انسانيت دی
جوړه لبنان کې زلزله ده
له بېسوادو څه ګيله ده
ښکلی بېروت په اور ستي شو
متمدن بشر وحشي شو.

محمد صديق ننګ
أکتوبر 2024 م کال



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ